SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپریږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

حلورم کال حلور اتیایمه گڼه پرله پسې (۲۷٤) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال دشعبان المعظم (۲) د ۱۳۷۸هـ ش کال د لرم دمیاشتي (۱۹) د ۱۹۹۹ میلادي کال د نوامبر (۱۰)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نژدې دی تقوا (پرهیزگاري) ته.
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د کورنیو چارو وزارت اداري او امنیتي چاري وځیړل شوي

د کورنیو چارو وزارت اداري او امنیتي چاري د هغي غونډي په ترڅ کي چي د محترم ملا عبدارزاق په مشري جوړه شوه وڅیړل شوي او د چارو د لا سه والي په لاره کي لازم تصمیمونه ونیول شول.

باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي غونډه کي لومړي د کورنیو چارو وزارت د بیلا بیلو ادارو او د اداري او امنیتي اورگانونو د اجراأتو او فعالیتونو په باب په هر اړخیزه توگه غور او څیړنه وشوه او ددغه وزارت د اړوندو چارواکو لخوا د نظریو او پیشنهادونو له وړاندي کیدو وروسته د چارو د ښه او په وخت اجرا په لاره کي د کورنیو چارو د وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند لخوا مشخصي کاري لار ښوونې وشوي او د چارو د لا ښه تر سره کولو په برخه کي په بیلا بیلو مواردو کي گټور تصمیمونه ونیول شول.

زلزله شدیدي شهر کابل را تکان داد

تکان هاي شدید زلزله پریشب شهر کابل و حومه آن را به لرزه در آورد.

اطلاعات واصله به آژانس اطلاعاتي باختر حاکیست که مرکز این زلزله در اطراف شهر فیض آباد مرکز ولایت بدخشان تثبیت گردیده و شدت تکان هاي این زلزله که شهر کابل و حومه آن را نیز به لرزه در آورد شش اعشاریه پنج درجه ریکتر تخمین گردیده است تکان هاي زلزله متذکره در شمال و شمال شرق افغانستان شدید تر بوده است.

پیام عالیقدر امیر المؤمنین عنواني مردم امریکا :

امریکا راه زور را پیش گرفته افغانها را به نظر سبک مینگرد

ملت ما را یکـــبار روس ها پارچه پارچه ساخت و حال امریکا با ما دشمنی می کـند

ملت امریکا باید بالاي حکومت خویش فشار بیاورد تا با افغانها دشمني نکند

امارت اسلامي افغانستان که در نتیجه قرباني تحریک اسلامي طالبان بعد از یك دوره ناگوار ظلم وحشت و فساد در کشور به وجود آمده است و از حمایت و پشتیباني ملت افغانستان بخاطري برخوردار است که سعادت اسلامي امارت اسلامي افغانستان در کشور حکومت مطابق خواست افغانها را تشکیل امنیت را تامین، ظلم و بربریت را از بین برده و زمینه زنده گي آرام را مساعد ساخته است.

مگر با آنهم حکومت امریکا بعوض اینکه آن خدمات افغانها را که با دادن قرباني اتحاد شوروي وقت را از هم پاشاند و جهان را از شر آن خلاص کرد در نظر گرفته و در راه حل مشکلات افغانها سعي و تلاش مینمود بر ضد ما به نام هاي گوناگون الزامات وارد و دشمني را آغاز نمود با وجود این هـ ... راه تفاهم را پس گرفته و همیشه آماده گي خوشرا براي مذاکرات بیان داشتیم مگر حکومت امریکا راه زور را پیش گرفته و افغانها را به نظر سبك مینگرد که این به زیان آنها میباشد زیرا روسها نیز چنین فکر میکردند مگر انجام آن چه شد قسمیکه ما عنواني حکومت حاکم شما در قصر سفید بتاریخ شش سپتمبر سالجاري ۱۹۹۹ میلادي نامه ارسال و دلیل مطلب را نوشته بودیم که کسي که ملامت باشد خداوند (ج) ص ٤

جلسه تربیتي و تعلیمي طالب العلمان حربي شوونځي تدویر یافت

جلسه تربیتي و تعلیمي طالب العلمان حربي شوونځي دیروز تدویر یافت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : جلسه متذکره که به اشتراك محترم ملا عبدالرزاق آخند وزیر امور داخله، رئیس تعلیم و تربیه وزارت دفاع ملي استادان و طالب العلمان حربي شوونځي تدویر یافت بعد از آنکه آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید چند تن از مسؤولین حربي شوونځي پیرامون چگونگي تعلیم و ص ٤

دور نهایي مذاکرات صلح بین فلسطین و اسرائیل آغاز گردید

دور نهایي مذاکرات بین فلسطینیها و اسرائیل دیروز در شهر رام الله واقع در ساحل غربي رود اردن آغاز گردید.

در دوران دور نهایي مذاکرات مسایل دشواري چون موقف آینده بیت المقدس سرحدات دولت آینده فلسطین و سر نوشت آبادیهاي یهودي نشین در اراضي تحت اشغال مورد بحث قرار میگیرد.

مذاکره کننده گان فلسطیني و اسرائیل در مذاکرات دیروز طرز ص ٤

د چیچنیایی محاصره مسلمانانو زړه دردونکی پیغام

ای د ټولی نړی مسلمانانو!

د چیچنیایی مسلمان ملت د لا تباهی لپاره وحشی روسان د گروزنی په ښارگوتی باندی خپلو بی رحمانه بمباریو ته ادامه ورکوی د روسانو په دی بی شرمانه ص ٤

راکت باران چیچن توسط قواي روسي ادامه دارد

اردوي روسیه دیروز نیز جمهوري چیچن را مورد حملات راکتي قرار دادند.

منابع خبري گزارش دادند که اردوي روسیه در طي این حمله چهار فروند راکت را به سرزمین چیچن پرتاب نمودند. تا حال در باره خسارات و تلفات ناشي از این حمله گزارشي دریافت نشده است.

اردوي روسیه در ماه ص ٤

په آلمان کي د برلین د دیوال د نړیدو لسمه کلیزه ولمانځل شوه

د برلین د دیوال نړیدل د افغانانو د اسلامي جهاد یو تاریخي ویاړدي

د برلین د دیوال د نړیدو د لسمي کالیزي مراسم پرون د المان په پایخت بن کي تر سره شول.

ددغو مراسمو په ترڅ کي چي د المان د پارلمان په تالار کي پر ځاي شوي و د شوروي پخواني جمهور رئیس میخائیل گرباچف او د امریکا د متحده ایالاتو پخواني جمهور رئیس جورج بوش وینا وکړه په دغو مراسمو کي د حکومت پارلمان او استازو د مجلس غړو هم گډون کړي و.

له بله لوري د المان صدراعظم گیرهارد شوایدر د یوي مرکي په ترځ کي چي د المان پېښه بوه ورځپاڼه کي خپره شوه د کمونستي رژیم په ص ٤

د چکوسلواکیا ولس مشر په چیچنیا باندي د روسي مظالمو غندنه وکړه

د چکوسلواکیا ولس مشر په چیچنیا کي د روسانو وروستني ناتار او وحشت سخته غندنه وکړه او په دي هکله یي خپل ژور خپگان ښودلی.

له جرمني څخه خپریدونکي اوونیزي «دیرسایمچل» سره د خبرو په ترڅ کي ده وویل چه روسان د تیرو څو کلونو څخه را پدیخوا د چیچنیا په گډون د منځنی اسیا د یو لړ هیوادونو خلاف خپله ناروا کړنلاره تر سره کوي چي د هغو له امله په نومړیو سیمو کي د هغه ځاي د اوسیدونکو احساسات را پاریدلي ولس مشر دا هم ویلي چي روسان باید چه د چیچنیا د خلکو د غوښتنو درناوي وکړي او په هغو د تیري کولو څخه ډډه وکړي.

در مسابقات جالب پهلواني :

کلپ میوند حایز مقام اول گردید

مسابقات جالب پهلواني که دیروز میان تیم هاي مختلف کلپ هاي آزاد در ستدیوم ورزشي کابل راه اندازي شده بود تیم پهلواني کلپ میوند حایز مقام اول و برنده کپ قهرماني گردید. ص ٤

د افغاني سري میاشتي په عالي ټولنه کي :

د پیښو ضد روزنیز ورکشاپ جوړ شو

د مرکزي زون د مرکزي کارکوونکو او ولایتونو د پرسونل د پوهي د سطحي د لوړولو په خاطر پرون د افغاني سري میاشتي د عالي ټولني په ریاست کي د پیښو ضد روزنیز ورکشاپ جوړ شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه ورکشاپ د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو له لوستل کیدو وروسته بیا د افغاني سري میاشتي د عالي ټولني لومړي مرستیال محترم داکټر ص ٤

تعمیر سابقه مرستون مجدداً احیاء و باز سازي گردیده است

تولیدات صنایع دستي و زراعتي مرستون دو باره به فعالیت هاي خویش آغاز نموده است

شریعت : اخیراً در اثر همکاري و پروتوکول میان امارت اسلامي افغانستان و کمیته صلیب سرخ، تعمیر سابقه مرستون واقع در اقشار سیلو که در اثر جنگهاي ذات البیني به ویرانه مبدل گردیده بود دو باره اعمار و باز سازي گردیده است. و همین اکنون تعدادي از فامیل هاي بي بضاعت، نابینایان و مریضان عقلي و عصبي اعضاي مرستون را تشکیل میدهد. همچنان تولیدات صنایع دستي و زراعتي مرستون دو باره به فعالیت همه ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

وا معتصماه!

تیره شپه عالیقدر امیر المؤمنین د خپل اسلامی او ملی احساس له مخی د مخالفینو په مشر غږ وکړ چی د دینی او ملی لوړو ارزښتونو د ساتنی لپاره له مخالفت څخه لاس واخلی، عالیقدر امیر المؤمنین همدا راز له مخالفینو څخه غوښتی چی نور باید د جگړی بهیر ته د پای ټکی کیږدی تر څو افغانان په خلاص مټ د هغو چیچنیایی مسلمانانو مرستی ته ورشی چی روسانو پری رنا ورځ توره شپه گرځولی، بی گناه بی لوی او واړه قتل عام کړیدی او انسانی فاجعی یی را منځته کړیدی.

په دی کی هیڅ شک نشته ده چی د چیچنیایی مسلمانانو مرسته او هغوی ته لاس ورکول د هر مسلمان که په لویدیځ کی وی او که په ختیځ کی فریضه ده ځکه د اسلامی شریعت د تعلیماتو له مخی چی مسلمانانو ته پری امر شوی او اسلام مسلمانانو ته ښودلی دی. یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی او د کفر او الحاد د تیری په وخت کی یی یی ۲ مخ

په ایران کی د فټبال لوبی څو سوه تنه ټپیان کړل

د ایران د شیراز ښار په ورزشي لوبغالي کي د فټبال د لوبي د ننداره چیانو تر منځ نښتو کي څو سوه تنه ټپیان شول.

خبري سرچینو پرون خبر ورکړ چي دغه نښتي د دوو مخالفو ټیمونو تر منځ د لوبي له پایته رسیدو وروسته وشوي دغه نښتي پرون د لوبغالي انگ ... نه بهر را منځته شویدي.

د بیوزلي له کبله :

په هندوستان کي د ځان وژني پیښي مخ په زیاتیدو دي

د هندوستان مطبوعات خبر ورکوي چي په هندوستان کي د ټیټو طبقو او د بي وزلو کورنیو د افرادو تر منځ د وله پیښي د ځان وژني پیښي مخ په زیاتیدو دي خبري شوي شمیرني ښیي چي ددغو ځان وژنو فیصدي د تیر کال په نسبت په سلو کي لس زیاتي ٤ مخ

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : محمد داد
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

له څنګه باید مرستې ته ودانګي، اسلام ټول مسلمانان که څه هم د نړۍ په هر ګوټ کې وي یو وجود او یو بدن ګڼي د اسلام ستر سالار او د بشریت ستر لارښود حضرت رسول اکرم «ص» فرمایي: چې یو مسلمان د بل مسلمان لپاره د یو بدن حیثیت لري چې که ددې بدن یو غړی ناارامه شي نور ټول بدن ورسره ناارامه وي «همدا راز فرمایي: «په خدای سوګند چې کامل مومن کیدلی نشي ستاسو څخه یو څوک تر هغې چې بل مومن ته هم هغه څه غوره وبولي چې خپل ځانته یې غوره بولي» همدا راز «یو مسلمان د بل مسلمان لپاره د یوه دیوال د خښتو حیثیت لري چې له یو بل سره یو ځای شوي او اوډل شوي دي» الله «ج» هم یو مسلمان د بل مسلمان ورور بولي که څه هم جغرافیوي موقعیتونه یې سره بیل وي. همدا راز په قرآن کریم کې په ډیر صراحت سره راغلي دي چې «دا کافران چې دي دوی څینې د څینو نورو کار جوړوونکي او مرستندوی دي که تاسې هم دا کار ونکړئ (یو د بل مرستندوی نه شئ) نو په ځمکه کې به فتنه او ډیر لوی فساد راشي» الانفال

رسول اکرم «ص» فرمایي: «مسلمان د بل مسلمان ورور دی په هغه باندې ظلم او ستم نه لوروي او نه یې دښمن ته ورسپاري (او نه یې ورته یوازې پریږدي)».

نو د پورتنیو الهي او نبوي ارشاداتو له مخې عالیقدر امیر المومنین په مخالفینو غږ وکړ چې په دې خاطر چې د کفري ښکیلاک له خوا د چیچن په مسلمانانو باندې ځمکه سره شوې او له ډول ډول تعذیبونو او شکنجو سره مخ دي نو راځئ دلته جګړې بس کړئ، دا وطن نور مه کړوئ، افغاني شازلمي نور دلته مه بوختوئ پریږدئ چې د خپلو چیچنیایي ورونو تنګي او ملاتړ ته ورشي د هغو کمزورو ستضعفو معصومو کوچنیانو بوډاګانو او ښځو تنګي او ژغورلو ته ورشي چې سبا او بیګا چیغې وهي چې «ای ربه زمونږه! وباسه مونږ (نجات راکړې) له دې قریې څخه چې اهل یې ظالمان دي»

عالیقدر امیر المومنین که دلته له یو پلوه د خپل جرئت او د خپل لښکر د زورورتیا مظاهره وکړه نو له بل پلوه یې ملت ته دا وښوده چې سره له دې چې له مخالفینو او په سر کې یې له مسعود سره مخالفت لري خو کله چې د اسلامي امت د ملاتړ او مرستې موضوع او بین الاسلامي مسایل را پیدا کیږي او یا چیرې سلمانانو ته ستونزې را ولاړیږي نو بیا مخالفینو او په ځانګړې ډول مسعود ته هم د یو افغاني په توګه بلنه ورکوي چې راځئ کورنۍ ستونزې سره حل کړو ټول د همدې خاورې بچیان یو او د اسلام د دفاع لپاره ملا وتړو.

په مخالفینو باندې د امارت درانه مقام دې غږ یو ځل بیا ولس ته څرګنده کړه چې د اسلامي امارت له خوا مخالفینو ته هر وخت د تفاهم او مذاکرو دروازې خلاصې دي او دا مخالفین دي چې په اسلامي امارت باندې جګړه ورتپي.

د عالیقدر امیر المؤمنین له پیغام څخه څرګندیږي چې مخالفین یې یو ځل بیا دې ټکي ته متوجه کړیدي چې باید د روس او امریکا په دوستۍ کې عزت ونه لټوي، عزت د خدای په واک کې دی او سوچه مسلمانانو ته یې پیرزو کوي.

د عالیقدر امیر المؤمنین دې پیغام د مخالفینو: سیاف او رباني په څیر هغه مشران چې تل یې د اسلامي امت د وحدت چیغې وهلې، ویل به یې چې اسلام سرحد نه مني، د نړۍ ټول مسلمانان سره ورونه دي او ... له یو ازمایښت سره مخ کړیدي چې اوس به یا په زغرده په خپلو ټولو شعارونو د بطلان او پښیمانۍ کرښه راکاږي او نه به ځانته بیا اسلامي پښت پال او ... وایي او یا به د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام ته لبیک وایي.

که خدای مکړه د اسلامي امارت د مقام د پیغام په وړاندې د دوی عکس العمل منفي وي او نه غواړي چې روس او امریکا تري خفه شي او خپل عزت او ذلت د روس او امریکا په دوستۍ کې ولټوي نو نه یوازې چې تاریخ ته به یې مخ توروي بلکه د ایمان د زوال قوي اندیښنه یې هم موجوده ده ځکه دوی ښه پوهیږي چې د اسلامي فقهي له مخې له کفر څخه د مسلمان ژغورل په هر مسلمان د لمانځه او روژې په څیر فرض دي. علماء وایي چې که په لویدیځ کې یوه مسلمانه ښځه د کفارو منګولو ته ولویږي نو د ټولې نړۍ مسلمانان دي د هغې د را خلاصولو لپاره کوښښ وکړي او خپله شتمني دې ولګوي که څه هم هیڅ مال ورته پاتې نه شي ایا دوی د اسلام په تاریخ کې دا مشهوره واقعه نه ده لوستې چې د روم په بلقا کې یو تن خیرن او بیرسري صلیبي په عام محضر کې یوه مسلمانه ښځه وتیښتوله او ښځې چیغې وهلې چې «وامعتصماه وا...» «ای ژغوروونکیه! ما وژغوره!» څرنګه چې هلته مسلمانان کم وو نو یو تن مسلمان ژلمي په سخته بخنۍ کې په زرګونو میله فاصله په آس ووهله او بغداد ته یې خلیفه معتصم ته د هغې فریاد ورساوه او خلیفه معتصم هم د خپل ایماني مسوولیت او دیني غرور له مخې او یا زره تنه لښکر چمتو کړ او د خلافت د مرکز دروازې یې وتړلې او بلقا ته د هغې مسلمانې ښځې مرستې ته ورغی، کلی یې محاصره کړ او هغه مسلمانه میرمن یې د صلیبیانو له منګولو وژغورله. اوس د چیچن په مسلمانانو هم همدا ورځ راغلې ده هیله ده چې د اسلامي امارت مخالفین هم د چیچنیایي خویندو د مرستې غږ ته مثبت ځواب ووایي.

په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پیل او پرمختیا

وحید الله «غازي خیل»

په افغانستان کې د امیر شیر علیخان د دوهم حکومت ۱۸۶۸ - ۱۸۷۸ دوره هیواد ته د نوي تمدن د راتلو، ترویج او تعمیم دوره ده په دې دوره کې مطبعه هیواد ته راوړله شو د «شمس النهار» اخبار نشر شو، کتابونه خپاره شول، د پست ټکټونه چاپ شول، عصري لښکر جوړ شو، کابینه جوړه او د چارو ویش وشو او ورسره د ملکي او عسکري چارو د پرمختیولو لپاره د کدرونو د روزلو په غرض په هیواد کې په سرکاري کچه یو ملکي او یو عسکري ښوونځی پرانستل شو او له دې سره په افغانستان کې عصري زده کړې پیل شوې.

د پوهنې اداره:

په یو منظمه ټولنه کې د ښوونې او روزنې د چارو د سمبالښت لپاره تر هر څه وړاندې اداري ته اړه وي امیر شیر علیخان د دې کار لپاره یوه کوچنۍ اداره جوړه کړه چې محدود غړي یې درلودل او په تشکیل کې یې د پوهنې آمر کوونی او بهرني ښوونکي، عمومي مبصر تحویلدار د کتابونو لوازمو د تهیه کولو دفتر او دومره بودجه چې د کتابونو د خپرولو او ښوونکو او کارکوونکو د معاشونو لپاره بسنه وکړي، شامل وه چې په دې توګه دې مختصرو تشکیلاتو د پوهنې د هغه وخت د اړتیا وو پوره کولو کفایت کاوه.

تعلیمي نصاب

د ښوونې او روزنې موخې یا اهداف چې د نصاب له لارې پلي کیږي د معارف اساسي بنسټ جوړوي د امیر شیر علیخان د واکمنۍ د وخت په تعلیمي نصاب کې د دیني او نظامي موضوعاتو زده کړې ته زیاته پاملرنه کیده، دا ځکه چې افغانستان په دې وخت کې د لویو ځواکونو له ګواښونو سره مخامخ و روس او انګریز چې د دواړو مستعمرې زمونږ پولو ته راورسیدلې وې غوښتل چې د افغانستان په نیولو کې له یو بل نه وړاندې شي البته انګریزانو خپل دې ښکیلاکي موخې یا هدف ته د رسیدو لپاره د دښمنۍ او روسانو بیا د دوستۍ په جامه کې کار کاوه نو افغانانو د خپلو ملي پولو د ساتنې لپاره نظامي زده کړو او فکري پولو د ساتلو لپاره دیني زده کړو ته اړتیا درلوده. د ښوونځیو درسي نوټونه لومړي قلمي وو، خو بیا چې د فرهنګي چارو د پر مخبیولو لپاره په بالاحصار کې شمس النهار او مصطفاوي مطبعې جوړې شوې دا کتابونه چاپ شول او پر ښوونځیو سربیره د عامو د استفادې لپاره هم وړاندې شول دا وخت د ښوونې او روزنې په نصاب کې په دیني او نظامي زده کړو سربیره ریاضي، جغرافیه، تاریخ، کیمیا او نقشه کشي علمونه هم زده کوونکو ته ورښودل کیدل د امیر شیر علي خان د وخت دا لاندې چاپ شوي کتابونه موږ ته څرګند دي:

«حجت قویه در ابطال عقایدوهابیه» چې قاضي عبدالرحمن محمد سعید زوی تهیه کړې او د میرزا محمد صادق په اهتمام په ۱۲۸۸ هـ ق - ۱۸۷۱ م کال د کابل په مصطفاوي مطبعه کې خپور شوی دی. بل مهم کتاب د پلټنې د قواعدو کتاب دی چې قاضي عبدالقادر پیښوري یوسفزي له انګریزي څخه پښتو ته را اړوی او دري تشریحات لري، دا کتاب په ۱۲۸۹ هـ ق کال د بالاحصار په مصطفاوي مطبعه کې د محمد صادق په اهتمام خپور شوی دی چې ۳۸۲ مخونه لري، بل نظامي کتاب قواعد رساله نومیږي چې محمد ابراهیم خان آجیټن له انګریزي نه ژباړلی او د میرزا محمد صادق په اهتمام په مصطفاوي مطبعه کې ۳۵۶ مخونو کې خپور شوی دی. تحفة العها د امیر شیر علي خان نصیحت نامه ددې وخت یو دیني اثر دی چې قاضي عبدالقادر پیښوري لیکلی او د میرزا بیضا خان په خط په ۸۰ مخونو کې په ۱۳۹۲ هـ ق کال چاپ شوی دی وعظ نامه یو بل اثر دی چې د عثماني ترکیې او روس د جګړې پیښې د لندن تایمز له جریدې نه په کې د قاضي قادرو په وسیله ژباړلې شوې چې د ژباړونکي یوه سریزه هم لري، دا اثر په ۹۰ مخونو کې په ۱۲۹۲ هـ ق د کابل د شمس النهار په طبعه کې خپور شوی دی. «مجمع البحرین» یو طبي کتاب په ٤۸ مخونو کې په ۱۳۹۵ هـ ق کال د شس النهار په مطبعه کې آقا سید **احمد شاه چاپ کړی چې مهتمم یې قاضي محمد اسحق خان د شاهي مطبعې مهتمم دی.**

قانون نامه عسکري ددې دورې یو بل نظامي کتاب دی چې ۷۹ مخونه او عسکري نقشې لري او د میرزا حمد صادق په اهتمام په مصطفاوي مطبعه کې خپور شوی دی همدا راز ددې دورې نورې چاپي نسخې لاس ته نه دي راغلي. دا اکثر کتابونه د تعلیمي او درسي مقاصدو لپاره برابر شوي وو.

ددې وخت ښوونځي:

امیر شیر علي خان به په خپله فرهنګي او د ښوونې او روزنې چارې څارلې د زده کوونکو د ازموینو څیړنه به یې کوله د میز شا ته به کیناسته او له زده کوونکو نه به یې پوښتنې کولې او لایقو شاګردانو ته به یې انعامونه او سوغاتونه ورکول. دا وخت دوه عصري رسمي ښوونځي موجود وو چې یو د عسکري او بل د ملکي چارو د زده کړې لپاره وو. حربي ښوونځي د شیر پور په نوي جوړیدونکي ښار کې چې یوه برخه ودانۍ یې سرته رسیدلې وې تاسیس شو او یو شمیر زده کوونکي یې د عسکري چارو لپاره تر روزنې لاندې ونیول. لومړي یې ښوونکي داخلي وو خو تر دوو کلونو وروسته یې لایق بهرني ښوونکي هم استخدام کړل دا ښوونځي لیلیه و او ټول لګښت یې دولت ورکاوه، په دې ښوونځي کې نظري او عملي درسونه ورکول کیدل او په نصاب کې یې ټول عصري ضروري علوم شامل وو او په دې سربیره یې د ټوپک او توپ ویشتلو قواعد، د سورو او پلیو زده کړې او نیبه ویشتل ورښودل ددې ښوونځي د زده کوونکو ټول شمیر ۳۰۰ تنو ته رسیده.

ملکي او د خوانینو ښوونځي په بالاحصار کې و چې شهزادګانو او د مخورو او اشرافو زامنو زده کړه په کې کوله، دا ښوونځی نهاري وا و د حربي ښوونځي د حربي درسونو په عوض یې د حقوقو، اداري، سیاست او ادب مضمونونه په نصاب کې شامل وو دې دواړو ښوونځیو او نیز تعلیمي ګزارش درلود چې په هره میاشت کې به نګران ته سپارل کیده د ښوونکیو د حاضري او غیر حاضري او درس نه د پاملرنې په باب پیل ګزارشونه تهیه کیدل، ازموینه دری میاشتنۍ وه او کلنۍ ازموینې حتمي او په ډیر دقت اخیستل کیدله ممتحنین له نورو ادارو نه ورته راغوښتل کیدل چې د مضمون ښوونکي د پوښتنې او نومرې ورکولو حق نه درلود

پوښتنو تقریري او تحریري بڼه درلوده تحریري پوښتنې یې له دې چې د مضمون ښوونکي ورسره وي د یو هیئت له خوا مطالعه کیدې او نومرې ورکول کیدلې او په دې توګه د ښوونې او روزنې اداري زده کړې او ازموینې کلک او ګټور نظم درلود د ملکي او خوانینو د ښوونځي یو استاد مولوي عبدالرحیم کاکړ د مولوي عبدالروف کندهاري زوی و او هم شهزاده عبدالله خان ولیعهد دې ښوونځي یو مهم زده کوونکی و.

د حربي ښوونځي له زده کونکو څخه یو هم کاکا سید احمد لوږین چې بیا وروسته چې د «اوصل کاکا» په نامه د یا سواره کولو یوه نوې لاره جوړه کړه نوی لاره جوړه کړه.

دا دواړه ښوونځي د پاچا د منشي قاضي عبدالقادر پیښوري له خوا اداره کیدل چې په دې توګه ده د پوهنې د آمر حیثیت لاره او پاچا هم په خپله د معارف څارنه کوله نو نوموړی افغانستان د پوهنې لومړنی افتخاري وزیر هم ګڼلای شو د ۱۸۷۸ عیسوي کال په نومبر کې **په افغانستان باندې د انګریزانو دویم یرغل په کیدو سره یو ځل بیا د هیواد اداره تنده او زمونږ هر څه د جګړې د اورد لمبو خوراک شول په دې لړ کې د پوهنې بله کړې شوې ډیوه هم مړه شوه او بیا تر دوو کلونو پورې په هیواد کې اړو دړو وو**

پاتې لري

په نړۍ کې مسلمانان د تحقیق او څیړنې لرغونې دود باید بیا خپل کړي

محمد سهیل «شاهین»

دکتور مراد هافمن چې مسلمان مفکر دی او مخکې د المان سفیر و وایي چې صهیوني ځواکونو په غرب کې خپل ټول قوت د اسلام د مقابلې لپاره په کار اچولی دی، د شرق الاوسط سره په یوه مصاحبه کې نوموړي خپل نظرات په لاندې ډول څرګند کړل

- د تاسې په نظر په غرب کې په تیره بیا په المان کې مسلمانان د کوم ډول ګواښونو سره مخامخ دي؟

دکتور مراد: غرب مسلمانان د هر ډول ترور او تخریب مسؤل ګڼي، د غربي ټولنې لپاره یې ستر خطر بولي ددې وجه داده چې ځینو غربي مفکرینو او لیکونکو د اسلام په هکله منحرف عکس خلکو ته وړاندې کړی دی دوی د ځینو مسلمانانو عجیب تصرفات د مثال په ډول وړاندې کوي او هغه د اسلام د عادلانه او آفاقي اصولو تصویر بولي دغه کار د غربیانو په زړه کې ویره پیدا کړې چې اسلام د مادي تمدن سخت مخالف دی، د دوی په فکر هغه تمدن چې د هغه په ذریعه انسان په نړۍ د ترقۍ او پر مختګ پړاوونه وهلي او وهي یې او په همدې تمدن او مادي پر مختګ دوی وپاړي.

لطفاً ووایاست چې په غرب کې د اسلام په خلاف د ظالمانه بریدونو په مقابل کې تاسې څه ډول رول لوبوئ؟

دکتور مراد: اروپایي ذهنیت تر اوسه د صلیبي جګړو د خاطراتو د اثر لاندې دی.

لا تر اوسه کاتولیکي مشرانو د اسلام په هکله خپل منفي نظر نه دی بدل کړی هغه څه چې قسیسانو او رهبانانو د اسلام په هکله ویلي او لیکلي، په غرب کې یې اسلام په ناوړه ډول معرفي کړی دی.

په دې کې شک نشته چې صهیوني طاقتونو خپل ټول قوت د اسلام د مقابلې لپاره په کار اچولی دی او پدې لاره کې د هیڅ ډول دروغو او فریب نه مخه نه اړوي. د اسرائیلو د استخباراتو دستګاه «موساد» په اسلامي نړۍ کې د پیښیدونکو ډیرو پټو پیښو کې لاس لري پداسې حال کې چې مسلمانان پرې خبر نه دي او یا دې پلو ته متوجه نه دي له همدې امله ما خپله تجربه، امکانات، ثقافت، اړیکې او لیکنې پدې لاره کې په کار اچولي چې په غربي نړۍ کې اسلام په صحیح معنا سره وړاندې کړم او د اسلام په هکله باطل او دروغجن تبلیغات او اتهامات رد کړم همدا شان غواړم په المان کې د مسلمانانو خدمت وکړم تر څو د المان د خلکو په مینځ کې د اسلام دایره نوره هم پراخه شي.

- تاسې هغه فکري جریانونه څنګه ګڼئ چې د اسلام په هکله اوس جاري دي لکه د فوکویاما تالیفات او یا د هنتګون لیکنې؟

دکتور مراد: د نهمې لسیزې په پیل کې او په نړۍ کې د کمونیزم د نابودۍ او د غربي کمپ له خوا د امریکې په مشرۍ د نوي نړیوال نظام د اعلان نه وروسته، ډله ایز وسایل د اسلام او د غرب د اړیکو په هکله لیکنو ته زیاته توجه کړې بلکې موږ ویلی شو چې په غرب کې ځینې مفکرین او سیاسي کسان ادعا لري چې اوس اسلام د غرب په مقابل کې د کمونیزم ځای نیولی دی پدغو کسانو کې امریکایي لیکوال فرانسیس فوکویاما هم شامل دی چې د غربي او اسلامي تمدن په مینځ کې ټکر حتمي بولي زیات تحلیل کوونکي وایي چې غربي سیاست مدارانو اوس تقریباً په یو مخیز ډول د اسلام سره د برخورد پخاطر همدغه نظریات د خپلې ستراتیژۍ په توګه قبول کړي دي.

- تاسې د اسلامي نړۍ لا محدوده منابع څنګه څیړئ؟

دکتور مراد: د زیاتو اسلامي هیوادونو اقتصاد له یوه او بل نه توپیر لري او د غرب په پرتله اسلامي هیوادونه د پرمختللیو علومو نه بې برخې دي.

څرګنده ده چې په علم او تکنالوژۍ کې پرمختګ د فکر آزادۍ او غښتلي اقتصاد ته اړتیا لري

له همغه وخته راهیسې چې مسلمانانو په تکنالوژۍ کې په غرب تکیه لګولې او په علم کې یې تحقیقي هڅې شاته غورځولې دي په مسلمانانو کې د تحقیق او څیړنې د پرمختګ او نوښت روح هم کاملاً مړ شوی دی د مسلمانانو سره دومره وسایل شته چې غرب یې هم نلري، لاکن د دغو وسایلو د استفادې لپاره معقول او بشپړ پلان ورسره نشته له بلې خوا د تیرو مسلمانانو د روزنې طریقې کې هم قهر او دکتاتوري ورننوتلې ده همدا راز مسلمانانو د نظري علم تر څنګ تجرباتي او عملي علم ته توجه نه ده کړې.

په نننۍ اسلامي نړۍ کې یوازې د ادب په ډګر کې ځینو کسانو مقام تر لاسه کړی پداسې حال کې چې په غرب کې خلک هڅه کوي چې د تحقیق او څیړنې په ډګر کې نوم وګټي لاکن بیا هم مسلمان عالم یوازې نظري او ادبي علومو ته توجه کوي او بس.

له انحراف څخه دا سلامي تحریک د ژغورلو لاری چاری

محمد الله «نورستانی»

دا معلومه خبره ده چی هر اسلامی تحریک په ابتدا کی په ښو اهدافو او سپیڅلو عزمونو باندی منځ ته راځی. خود وخت په تیریدو سره د افرادو د تکاسلی په وجه له خپل اصلی مسیر څخه منحرف او په بله خوا روان شی.

څرنګه چی د اسلامی تحریک منشأ او منبع د اسلام دوه اساسی اصول قرآن او حدیث دی او په همدغو دوو اساسی اصولو کی د اسلام د لارویانو لپاره په ټول ژوند کی ښکاره لاری ترسیم شوی چی د هغوی په تعقیب او بشپړی پیروی کی مسلمانان له هر قسم انحراف او لغزش څخه خوندی پاتی کیدای شی.

مونږ دلته څو هغه اساسی ټکی چه دیوه اسلامی تحریک د بشپړ سوچه پاتی کیدو لاری په کی واضح شوی ذکر کوو :

1 تر هر څه له مخی باید په هر کار کی د الله «ج» د رضا غوښتنه وشی. دا چی د الهی رضا یوازی دا نه چی د کارکوونکو په دماغ کی ځای په ځای کړی بلکی د هغه نهایت اهتمام په کار دی د پوره اخلاص و عزم سره دا اقرار په کار دی چی د خدایٰ رضا طلب په اول او اخیر کی زمونږ نهایی هدف دی او د همدی له خاطره مونږ په دی تحریک کی شامله شوی یو او دغه کار فقط د همدی اخلاص او عزیمت سره بر قرار پاتی کیدلای شی بر عکس که د رضا خداوندی په طلب کی کمی راغله نو بیا تحریک بالکل بی روحه جوثه پاتی کیږی څنګه چی همدغه خبری عملاً د سر په سترګو مونږ اولیدل چی کله مجاهدین کابل ته رانتوتل د الله د رضا په طلب کی کمی راغله هاغه وچی کومی ناوړی نتیجی سره مخامخ شول باید چی د باطلو قوتونو له فکر او نظر سره سازش ونشی.

۲- دویمه دا چی د تحریک په کار کوونکو کی باید د باطلو نظریاتو او افکارو سره سره د مداهنت او ساز باز مرض پیدا نشی هغوی باید بالکل دی مرض ته زیاته متوجه شی ځکه چی دا ښکاره خبره ده چی اهل باطل په فطری توګه سره د مختلفو لارو نه د اهل حقو خلکو ذهنونه مرعوبه کول غواړی لدی وجه نه که تحریک دی کوششونو ته په سختی او استقلال سره د ناکامولو توجه ونکړی نو لری نده چی ددی خبرو د منفی اثر څخه کار کوونکی متاثره نشی کوم چی دغه کار د تحریک لپاره د زهر قاتل څخه څه کم ندی.

۳ د حکمت او پوهی مقتضیاتو ته باید پاملرنه وشی او هغه دا چی څرنګه چی تحریک د مداهنت څخه ژغورل ضروری دی نو ورسره ورسره د بی تدبیری او د بی حکمتی نه د تحریک ژغورل او د حکمت او پوهی په مقتضیاتو عمل کول هم یو مهم کار دی لکه د نورو تحریکونو اسلامی تحریک هم باید باید په تدریج سره مخ په وړاندی روان وی کچیری دغه تدرج او حکمت عملی مونږ شاته وغورزاوه نو د سرکشه اسپه غوندی به تحریک یوی کندی ته وغورزیږی څرنګه چی ددی خبرو نتیجی مونږ دا اوس په ماضی قریب کی لیدلی.

۴- دین باید د غیر متوازن تصور څخه وساتل شی : د تحریک په تنګانو ته باید ددین صحیح او متوازن تصور په جامد او غیر متوازن تصور سره بدل نکړی شی کارکوونکو ته باید دین د هر اړخیز هدایت په شکل معرفی شی پکار ده چی ورته وښودل شی چی اسلام محض د عباداتو نوم نه بلکی په اسلام کی ترقی او د ساینس او ټکنالوژی پوره پوره ګنجایش موجود دی خدای د نکړی که د مسیحی پادریانو او پاپانو غوندی که دین مونږ د رهبانیت مسیحیت په وړاندی د غبرګون او عکس العمل په توګه د سیکولریزم نشأت وشو.

۵- کارکوونکي باید له فکری جمود څخه وساتل شی :

کارکوونکی یوازی دا نه چی د عملی سرګرمی په میدان کی نه بلکی د فکر په ډګر کی هم کومه کوتاهی محسوسه نکړی کچیری په عامو کارکوونکو کی فکری جمود پیدا شو نو بیا تحریک په خپله صحیح رخ باندی سفر نشی کولای هغوی باید د فکر په ډګر کی ازاده پریښودل شی تر څو چی په اختیاری او انتخابی شکل سره د تحریک خدمت ته ملا وتړی او که د یو څو مادیاتو له خاطره تحریک ته راغلی وی او کومه فکری رشته ونلری نو د مادیاتو د عدم حصول په صورت کی هغه بیا خامخا د تحریک مخالف کیږی څنګه چی مونږ یی په خپله ګورو مګر حقیقت دا دی چی دغه کار بیا تحریک د زوال سره مخامخ کوی.

۶- د فکر ازادی او د رأی صحیح استعمال وشی :

د تحریک په کارکوونکو کی به د رأی اختلاف حتمی وی ولی چی دا د انسانی فکر او تدبر فطری تقاضه ده مګر دغه د رأی اختلاف باید د فکر انتشار او د ذهنی طوایف الملوکی شکل اختیار نکړی دا سمه ده چی د رای او د فکر ازادی د هر انسان بنیادی حق دی کچیری دغه حق په صحیح طریق سره استعمال کړی شی نو بیا د تحریک په عمل کی صحت او د اقدام قوت لاپسی زیاتوی بر عکس کچیری په غلطه طریقی سره استعمال کړی شی نو بیا د تحریک د انتشار کولو باعث ګرځی او د رای د استعمال صحیح طریقه دا ده چی په غیر منصوصی او اجتهادی چارو کی باید د رای د کسر او انکسار څخه کار واخستل شی، صحی نتیجی ته د رسیدلو لپاره باید په نهایت خلوص او سړه سینه بحث او ګفتګو وشی مګر په اخره کی چی کومه پریکړه وشی باید بیا په خپله رای د اصرار کولو خیال پریږدی «اعجاب کل ذی رأی برأیه» یو داسی مهلک عمل دی چی د تحرکی تفاهم ورسره مشکله وی.

۷- د امر بالمعروف او نهی عن المنکر جذبه باید په ځان کی پیدا شی :

د تحریک په کارکوونکو کی باید «تواصی بالحق او تواصی بالصبر» ایمانی ذوق مخ په کمیدو ته پری نږدو بلکی د هغه باید مخ په زیاتولو اهتمام وکړو. امر بالمعروف او نهی عن المنکر باید خپل ځان څخه شروع کړو اول باید سړی خپله شیشه صفا کړی بیا د بل چا ته ګوته ونیسی.

۸- د امیر د اطاعت صحیح تصور باید په نظر کی ونیول شی :

د تحریک کارکوونکی باید د خپلو مشرانو سره د «سمع، طاعت او د نصح» فریضه پوره پوره احساس کړی او ددی دوه مهم اړخونه دی : ۱- دا چی په نیکو کارونو کی د امیر باید پوره پوره اطاعت وکړی شی او په خپله زړه کی دی ورته محبت او احترام ولری. ۲- بله دا چی د امیر د فکری، عملی او د هر قسم لغزشونو څخه د ساتنی ذریعه جوړه شی.

۹- د مایوسی او نا امیدی سد باب وشی :

د تحریک دعوت کونکی باید د خپل کار په سلسله کی چی دا د ژوندانه فریضه ګرځولی وی کله هم د مایوسی او نامرادی ښکار نشی د نفس او شیطان د فریب په چال کی باید ګرفتاره نشی بلکی ورسره باید ددی خبری سوچ هم وکړی چی کیدای شی چی زما دعوت په طریقه کار کی کوم نقص او یا زما د اخلاقو او اعمالو کمی هم موجوده وی کچیره دده دعوت محسوس نتایج رامینځ ته نکړل نو د ناکامی په ذمه واری کی زما د قبل الذکر کوتاهیو هم ضرور د حل موجود دی.

۱۰- هر کار باید د کامیابی محسوسو نتایجو پوری منحصر نکړی شی:

داعی باید د خپل منشور معیار محسوسو نتایجو پوری خاصه نکړی که دده دعوت رنګ رانه وړ نو دی به دعوت پریږدی بلکی دعوت کونکی باید ووایی چی زه خپله دعوتی کارونه حد امکان سرته رسومه ولو که هغه محسوس او ښکاره نتایج مینځته رانه وړی ولی چی نتیجه د الله په لاس کی وی او په مسلمان باندی د خپلو وسایلو په کار اچول دی او بس.

په افغانستان کي د تیر شاهي نظام، ملي حاکمیت، پارلمان او د تیر دموکراسي پال حکومت څرنګوالی ته یوه کتنه

ر.م.و ابراهیم خیل

شپږمه برخه

۱- سید ابرار پاچا د لغمان ولایت د قرغیو د ولسوالي ولسوال، په ۱۳۳۲ کال کله چه د انتخاباتو ډګر ښه تود و او نژدی و چه د کاندیدانو له جملی یو یوه او مستحق کاندید لوبه وګټی، پدغه وخت کی د مناسب فرصت په تر لاسه کولو یو رسمی سری لیک چه په هغه کی د ملک د وزیر اعظم په لارښوونه د سیمی وکیل په ګوته شوی و، وښود، هغه کاندید ګټلی میدان پریښود او کاندید یی بیرته واخیست او آرام په خپل ځای کیناست.

۲- محمد حسن ګردیزی د دولت یو بل وفادار او مخلص والی وایی: هغه وخت چه غلام رسول پره ماچ جدیدی ژنرال د مزار شریف ولایت نایب الحکومه او زه یی د بلخ لوی ولسوالی وم، د انتخاباتو نه ٦ میاشتی مخکی د عظمی صدارت د ضبط احوالاتو د ریاست د لارښوونی له مخه د مزار شریف والی پره ماچ په لاسلیک یو لیک را ورسید. چه له هغه سره د څلورو ولسوالیو د ټاکل شویو یا غوره شویو نویو کاندیدانو جدول و په لیک کی پدی خبره زور اچول شوی و چی د جدول ګټل شوی رجال دی د نوی دوری وکیلان وی. د ولسوالیو له خوا به په هر صورت چه وی د دوی ملاتړ کیږی. چه له ټاکل شویو سیمو همدغه کسان پارلمان ته راشی نه نور. ټاکل شوی کسان می ځای په ځای په خپلو خپلو ولسوالیو کی موندل او وپیژاندل. خو له هغی جملی مو یو نفر چه عبدالقیوم نوماند مشخص نکړای شو او نه پیژانده اخر چه هغه د خلاو فرصت موده تیره شوه او د انتخاباتو وخت را ورسید یوه ورغ داسی سړی چه جامی یی پکتیا والو ته ورته وی د لویی ولسوالی مقر ته را دننه شو، چه نور راغلی کسان ولاړل د فرصت نه په استفاده یی وویل : زه هغه عبدالقیوم یم چه ٦ میاشتی د مخه د صدارت د ضبط احوالاتو د ریاست په لارښوونه د بلخ د لویی ولسوالی د چمتال ولسوالی د وکیل په توګه ښودل شوی یم.

د هغه د غوښتن لیک په پای کی می محکمی ته ولیکل د چمتال ولسوالی د شورا د وکیل اعتبار نامه ورته وسپاری خو د هغه د وکیل په حیث ولایت ته د معرفی په لیک کی می خپله غاړه داسی خلاصه کړه :

«عبدالقیوم ولد نظر محمد ساکن جغتوی وردګ دارنده تذکره ولایت کابل بحیث وکیل ولسوالی چمتال بلخ تعین ګردید»

په یوه ګوزار دوه نښی یا په یو غشی اسلام او اسلام پلویان ویشتل

په ۱۳۲٦ ش کال کله چی ظاهر شاه د لومړی اکا محمد هاشم د صدارت د ظلم زور ځپلو د تاوتریخوالی د کښینولو لپاره د خپل دوهم اکا شاه محمود نرمه سته د «میږی خواره مارغه» په څیر له دوکی او تیر ایستنی ډکی دروا غجنی دموکراسی دوره پیل کړه په هغه کی یی لومړی د ولس د تیر ایستنی له پاره له یو څو په څه پوه کسانو، خو د یو شمیر نورو په ګوته شویو بریځو په ورګډولو یوه د «پاکو، ناپاکو، ګډوډو» شورا جوړه کړه او د غبارو محمودی، الفت او انګار په امتیازیی د وطن ندای خلق ولس او انګار په نوم جریدو ته د خپرولو اجازه ورکړه. دغه په ظاهر د نیکمرغه او ښیګڼ پالو چارو فرصت او په حقیقت کی د ټکی او تګماری لوبی د هیوادوالو زړونه تر ډیره حده ټکور او د هاشم خان د دوری څریکی سړی کړی، خلک د سبا او د ژوند د ښه کیدو په سوچ کی شول، مدرسو علم، زده کړی ته یی په بیړه سره هڅه پیل کړه.

کر، کیله، کرونده، فن او هنر سره شوق او مینه زیاته شوه وروروولی، خواخوږی عزیزولی او قومولی د دین او شریعت د حکم له مخی او د ټولنیز ښسټ د ټینګښت په بنا په ولس کی ورځ تر ورځ مخ پر زیاتیدو ملی جریدو هم دغه اسلامی او انسانی هدف ته د رسیدو لپاره په زړه پوری مطالب خپرول، ډیره قوی هیله او باور ده چی په ملک کی فرهنګی هنګامه یی د وران پیل شی.

خو له بده مرغه چه ظاهر شاه له یو دغسی آرام خوله مدنی غورځنګه ډک ملی بهیر څخه سخت په ویره کی شو او داسی بی وګنله کیږی چه دغه ننی ولسی آرام بهیر یو وخت د تیزو او یو ښه غوره کړی او د سلطنت له پاره تری سیلاو جوړ شی او د شاهی بی مسوولیته لړی ته د پای ټکی کیښیږدی ؟!

ددغه غورځنګ د مخنیوی له پاره پاچا «ظاهرشاه» د انګریزانو له دغه فورمول یا امر څخه «دوستان سره بیل کړه بیا یی ایل کړه» په استفاده داسی غوره کړه او وپتیبله چه د هیواد د اطلاعاتو له لاری د سید شمس الدین مجروح په لاسکاری د ځوان او زاړه تر منځ چه اسلام یی د حقوقو پر بنا یو د بل مکمل او متمم بولی تفرقه او بیلتون واچوی داسی چه نن او پرون سره لاس ګریوان شی، یعنی نن ځان د پرون زیږنده نه او ښځی بی بدیع او بی والده ولد وبولی.

نو سید قاسم رشتیا د وخت د اطلاعاتو وزیر ته لارښوونه وشوه چی د مزخرفاتو تر عنوان لاندی د متبرکاتو په شمول د «موی مبارک» استخفاف وشی دغه شان یو مکمل پښتو مطلب د عبدالرووف بینوا په قلم چه د خپرونو مشرو ولیکل شو او د غلام حسن ساپی په نوم د ګل پادشاه الفت د ولس په جریده کی خپور کړ شو.

ظاهر شاه یو پلو په شمس الدین مجروح د وخت د قبایلو وزیر- سید قاسم رشتیا د وخت د اطلاعاتو وزیر- عبدالروف بینوا د وخت د خپرونو مشر او الفت د ولس د جریدی په مشر دغه جرم او لویه ګناه تر سره کړه او بیا وار ددی وه چه ملایان، روحانیون او مشران پری خبر کړی او هاغه د انوار سهیلی د شرمین ګیدړی او په زرنه جبه کښی د نښتی مینبی کیسی ته ورته کانه پری وکړی چه پدغه توګه په یو وار دوه نښی وولی هم یی د څمری باداری له سره لاړه شی او هم د مینبی وینی تویی او ددی له پاره څو وخته مرداره آذوقه برابره شی. ځکه ګیدړه لاړه او د مینبی خاوند یی خبر کړ.

بل پلوی مجددیان، حضرت صاحبان، دینی عالمان قومی مشران له هغی جملی د لوی ننګرهار تنظیمه رئیس عبدالاحد خان ملکیار چه یو مؤمن دیندار کار دار او زور سپاهی و د ځوانانو د اخبار لیکنی ته را وپارول ژر تر ژره په ټول افغانستان کی د زاړه او ځوان تر منځ درځ پیدا شو او مبارزه توده شوه خلک دوه ډلی شول او د دواړو ډلو نمایندګان کابل ته راغلل د ننګرهار د علماوو مشری د عبدالاحد خان تنظیمه رئیس او نیابت یی د لغمان د چار باغ د قاضی عبدالقدوس په غاړه وه.

د هرات نه کرخ حضرت صاحب او د غزنی، پکتیا، کندهار نه مولوی یار محمد وردګ د عالمانو د مشرانو په توګه ټاکل شوی و یوه ورځ د ځوانانو او عالمانو د پلویانو تر منځ د کابل ولایت د صدارت او دا خله وزارت په څلور لارو کی نښته وشوه چه په هغه کی صبغت الله مجددی د عالمانو له خوا او عبدالعزیز خاوری شیر شاهی وال د ځلمیانو له خوا سخت ژوبل شول.

په پای کی غلام حسن ساپی د صلاد اثارو تر پیدا کیدو په کابل کی نظر بند او عبدالاحد خان تنظیمیه رئیس پدغه بهانه له تنظیمیه ریاست نه معزول کړ شو څو موده پس غلام حسن ساپی ازاد او په پشاور کی افغانی قونسل شو بیا په بغداد کی سفیر شو خو سخ د عبدالاحد خان جنرال چه په دغه سیاسی لوبه کی بی پنبه مانته شوه هم له پوځی او هم ملکی چارو د ۳۰ کالو ریښتینی خدمت په پای کی بد نام او لاس په سر شو

ظاهر شاه پدی دوکه او فریب قومی آرام علمی او مذهبی بهیر پهپه ودراوه او د ځوان، زاړه په نوم یی د پښتون او غیر پښتون د ملا او اومی تر مینځ لوړ جنګ شروع کړ په تیره بیا چه د هندوستان په تطمیع او د روسیی په لمسون یی د پښتونستان لوبه د کشمیر د کشالی د په پنبه درولو لپاره پیل او جدی کړه او دده د سلطنت تر پایه یی دوام وکړ.

دا وه د ظاهر شاه او داود آل یحیی د کورنی د ٤١ کلنی واکمنی د پارلمان تیر ور له دموکراسی ډکو حکومتونو حقیقت چه څه نا څه د هیوادوالو د زیاتی خبرتیا لپاره وکښل شو. **خدای«ج» دي دي د افغانستان د تیرو عاقبت نا اندیشو زورو ګناهکارو تش په نامه مشرانو له بیا راستنیدو وساتي او د دوی زورو آشنایانو ته دي الله تعالی له خپلی درګاه د حلالی روزی ذریعه برابره کړي، څو د زورو بادارانو د طمعی او هیلی له شرمه ډک انتظار ته د پای ټکی کیښودل شي.**

پاي

پیام عالیقدر امیر المؤمنین عنوانی ...

بالاي شان زلزله و طوفانها را نازل کند که بعد از آن دو مراتبه طوفان و یك مرتبه زلزله بالاي تان شده اگر قبول ندارید شما آن نامه را از ایشان طلب کنید که به کدام تاریخ تحریر گردیده و به کدام تاریخ زلزله و طوفان بالاي تان آمده است پس من گمان میکنم که حکومت امریکا در مقابل ما ملامت است ملت ما را یکبار روسها پارچه پارچه ساخت و حال امریکا با ما دشمني میکند و تعزیرات را بالاي ما وارد مینماید.

خلاصه اینکه امریکا بالاي ما تعزیرات مي آورد . گمان میکنم که باز هم طوفانها و زلزله بالاي تان مي آید زیرا که ملت افغانستان بسیار مظلوم است و خداوند- بزرگ«ج» به مظلومان کمك میکند و مقابله با خداوند تعالي از توان کسي نیست و شما ملت امریکا بالاي حکومت تان فشار بیاورید که همراي ما دشمني نکند و اگر شما در این مورد اقدام نکنید حیران خواهید ماند که از سوي خداوند- بزرگ«ج» چه پیش خواهد گردید و از وس تان پوره نخواهد بود.

تعمیر سابقه مرستون مجدداً احیاء و ...

جانبه خویش آغاز نموده است .

خبرنگار هفته نامه شریعت از مرستون و بخش هاي مختلف آن، بازدید نموده و گزارشي را تهیه نموده است که اینك توجه شما عزیزان را به خوانش آن فرا میخوانیم :

محترمه شاکره «فدا» آمره بخش اناث آسایش گاه مرستون به جواب پرسش خبرنگار ما چنین معلومات ارائه داشتند : همین اکنون در مرستون به تعداد بیست و شش فامیل بي بضاعت به شمول اطفال شان زنده گي دارند در یك قسمت تعمیر مرستون مریضان عقلي و عصبي هم جا دارند که تعداد آنها به سي و هفت تن مي رسد همچنان نابینایان نیز اعضاي مرستون را تشکیل میدهد که به صورت مجموعي تعداد اعضاي مرستون به ۱۹۷ تن مي رسد.

محترمه آمره آسایشگاه مرستون در جواب سوال دیگر که در آینده مرستون چقدر گنجایش جذب افراد بي بضاعت را دارا خواهد بود چنین گفتند : بودجه که براي اعضاي مرستون از جانب صلیب سرخ تعیین شده صرف براي دو صد تن کفایت میکند باید گفت که جذب پنج صد تن از گدایان شهر نیز در آینده در نظر است ولي تا کنون بودجه یي در مورد تعیین نشده است که ما توجه تمام مؤسسات خارجي و- مؤسسات خیریه را در قسمت کمك به مرستون خواهانیم .

خواهر شاکره «فدا» در مورد مصروفیت هاي فعلي اعضاي مرستون چنین معلومات ارائه نمودند : مؤسسه مرستون براي اعضاي اناث خود شاپ هاي بافنده گي، گلدوزي، قالین بافي، خیاطي و براي اعضاي ذکور، بخش هاي نجاري، حلبي سازي، خیاطي و- قالین بافي را فعال نموده است که توسط مجرب ترین استادان اناث و ذکور در دو تایم تدریس میگردد، و اطفال مرستون از سن هفت سالگي به بعد بر علاوه اینکه در مکاتب مرستون جهت فراگیري علوم دیني و کتب درسي مصروف اند به آموزش کار هاي مسلکي در شاپ هاي متذکره نیز مطابق ذوق و- استعداد شان سوق داده میشوند که تا در آینده براي وطن افراد با دانش و با هنر بار آیند.

محترمه آمره آسایشگاه مرستون در مورد عواید از حاصلات زراعتي مرستون چنین گفتند : امسال شش صد جریب زمین مرستون به اجاره داده شده است همچنان حاصلات فراوان از مدرك کشت و زراعت از سایر زمین هاي مرستون بدست آمده که منفعت زیاد از درك فروشات همین حاصلات به بودجه مرستون منتقل گردیده است به همین ترتیب سه هزار اصله درخت مثمر نهال شاني شده و فارم هاي گاو داري و زنبور داري مجدداً فعال گردیده و مرستون با داشتن بیست و دو گاو زراعتي هم از مدرك فروش شیر آن عایداتي را بدست مي آورد. و نا گفته نباید گذاشت که دو صندوق عسل خالص نیز از طریق فارم زنبور داري به منفعت مرستون بدست آمده است . اخیراً بعد از اعمار تعمیر صنایع دستي، بخش تولیدات صنایع دستي مرستون دو باره به فعالیت آغاز نموده و با داشتن استادان ورزیده شاگرداني را در عرصه هاي سوزن دوزي ، گلدوزي، خامك و خیاطي پرورش نموده و عایدات سرشاري هم از طریق تولیدات صنایع دستي براي مرستون بدست آمده است .

خبرنگار ما مي افزاید : از اتاق تولیدات صنایع دستي باز دید نمودم در همان اتاق تقریباً پانزده تن از طبقه اناث نیز مصروف فراگیري خیاطي و گلدوزي بودند و در چار اطراف اتاق نمونه هایي از کار کردهاي شان آویخته شده بود که واقعاً قابل تحسین بوده و توجه هر بیننده را به خود جلب مي کرد .

محترمه کریمه استاد خیاطي در صحبت با خبرنگار ما گفتند : مواد خیاطي و گلدوزي از جانب مرستون و کمیته صلیب سرخ براي ما تهیه میشود ما به یك استاد ماهر که ماشین گلدوزي را یاد داشته باشد ضرورت داریم .

سلطانه رحیم

کشف ستاره ایکه بدور دو ستاره مي چرخد

ستاره شناسان اخیراً به وجود ستاره یي عظیم پي برده اند که بدور دو ستاره مي گردند.

به گزارش شبکه جهاني انترنیت سیاره ایکه به نظر میرسد سه برابر مشتري و یکصد برابر زمین است و بیست هزار سال نوري از زمین فاصله دارد چندي پیش در آن اتفاق کسوف خورشید روي داد از میان بیست ستاره شناخته شده ایکه بدور ستاره ها میگردند هیچ کدام از آن ها بدور بیش از یك ستاره نمي گردند اما ستاره کشف شده جدید بدور دو ستاره میگردد.

د چیچنیایي محاصره ...

اعمالو باندی د نړیوالو سکوت او سیل بینی لا ددی باعث گرځی چه هغه نور هم خپلو وحشیانو اعمالو ته دوام ورکړی.

د ړوان کال د رجب د میاشتی په اواخرو کی روسی بم غورځونکو الوتکو او لیری ویشتونکو توغندیو د گروژنی د ښار په بی دفاع ښاریانو باندی په مسلسل ډول حملی وکړی چی په نتیجه کی یې سلهاوو تنه شهیدان او زخمیان کړ او ډیر یې بی سرپناه کړل ،

د روسانو ددی وحشیانه تیری له امله د ښار ټول روغتونونه له زخمیانو ځخه ډک او د دارو درملو له سخت کمبود سره مخامخ دی.

نو ای د نړی مسلمانانو!

تاسو به څه وخت د خپلو چیچنیایی مسلمانو ورونو مرستی او د هغوی په زخمونو پټی ښودلو ته وردانگی.

ایا لوی خدای«ج» په دی اړه ارشاد نه کوی چه : که چیری مسلمانان لتاسو څخه د دین په کارو کی مرسته وغواړی تاسو ورسره مرسته وکړی»

او د اسلام پیغمبر فرمایی : په محبت، دوستی او عاطفی کی ټول مسلمان د یوه بدن حیثیت لری که د همدی بدن یو غړی دردمن شی د هغه لامله ټول بدن نا ارامه وی.

ای خدایه ته زموږ مسلمان مجاهدین ورونه کامیاب کړی او د مسلمانانو وینی خوندی کړی . والسلام

د رجب المرجب میاشت ۱٤۲۰

نوټ : د چیچینا د مجاهدینو لخوا پورتنی لیک د فاکس په ذریعه د نړی د مسلمانانو په نوم لیږل شوی .

جلسه تربیتي و تعلیمي ...

تربیه طالب العلمان معلومات مفصل ارائه نمودند سپس محترم وزیر امور داخله پیرامون اهداف امارت اسلامي در عرصه تعلیم و تربیه صحبت نموده رسالت استادان و طالب العلمان حربي شوونځي را برجسته ساخته و در اخیر مراتب قطعه گارد آن شوونځي را پذیرفت .

په آلمان کي د برلین ...

راپرزولو او د هیواد د بیا یووالي په لاره کي د المان د ختیځي حوزي د خلکو د هلو ځلو له امله خوشي څرگنده کړه .

د یادولو وړ ده چي د برلین دیوال هغه وخت ړنگ شو چي د افغان مجاهد ملت د جهاد له برکته د کمونیزم نړیوال قوت وځپل شو او په نړي کي یي باداري ختمه شوه البته دا خبره یو منونکي حقیقت ده چي د برلین دیوال د افغانانو د سرښندني له برکته ونګ شو او دا پیسه د افغانانو د اسلامي جهاد یو تاریخي ویاړ دي.

د افغاني سري میاشتي ...

عبدالواسع عزام ددغه شان ورکشاپونو د جوړولو او اهمیت ارزښت او د طبیعي پیښو د را منځته کیدو په وخت کي په خپل وخت او زمان سره د مرستي د لارو چارو په باره کي نژدي څرگندوني وکړي او اړونده کار کوونکي یي خپلو راتلونکو دندو او مسؤولیتونو ته ځیر کړل.

وروسته د نړیوال فدراسیون مسؤل ښاغلي سلوا د ورکشاپ د جوړیدو د هدف په باب خبري وکړي او ددغو ځانگو د لا زیاتوالي په کار کي یي ددغه پرودیشن همکاري څرگنده کړه .

په دي ورکشاپ کي د مرکزي ولایتونو او د څلور گونو زونونو استازو او د اړوندي ځانگي یو شمیر کارکوونکو گډون کړیدي.

ددغه ورکشاپ کار دري ورځي دوام کوي

راکت باران چیچن ...

گذشته نیز گروژني پایتخت چیچن را مورد حمله راکت زمین به زمین قرار داد که از اثر آن ده ها نفر مردم ملکي گروژني به شهادت رسیدند.

در مسابقات جالب ...

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : بر اساس پلان مرتبه فدراسیون پهلواني کمیته ملي المپیك که به اشتراك سي تن از کشتیگیران کلپ هاي آزاد و- مؤسسات ورزشي راه اندازي گردیده بود در نتیجه تیم کلپ ورزشي میوند حایز مقام اول، کلپ امیري حایز مقام دوم و- کلپ جعفري حایز مقام سوم گردیدند.

در ختم مراسم براي برنده گان مسابقات کپ هاي قهرماني و تحایف تهیه شده توزیع گردید.

براي تماشاي این مسابقات عده- یي کثیري از علاقمندان این سپورت اشتراك ورزیده بودند.

دور نهایي مذاکرات ...

-العمل مذاکرات را مورد بحث قرار دادند.

قرار گزارشها مذاکرات بعدي آنها به روز پنجشنبه صورت خواهد گرفت . مطابق به جدول زماني قبلاً تعیین شده باید فلسطینیها و اسرائیلي ها تا ماه آینده میلادي در مورد مسایل مذکور به توافق برسند.

د بیوزلي له کله ...

دي.

یوه هندي ارواح پوه په کلکته کي وویل په څو وروستیو کلونو کي له دي پلوه په هندوستان کي د یې وزلو کورنیو د بچیانو د پله بیزي وژني موارد زیات شویدي چي واده ته برابري پیغلي او ځوانانو سره د واده د کولو لپاره د واده د لگښتونو او جیزي د برابرولو توان او قدرت نلري له دي امله د بدنامي په ژوند باندي مرگ غوره بولي او په ځان وژني لاس پوري کوي .

د هند د مطبوعاتو د څرگندونو له مخي یوه پله بیزه وژنه تیره اووني د هند د اوترا پردیش ایالت د مرکز لکنهو په ښار کي وشوه چي په هغي کي له یوي کورني نه له ۱۷ کلني نه تر ۲۵ کلني پوري د ولسو پیغلو د موږکانو د وژونکي درملو په خوړلو سره یې خپل ژوند پایته ورساوه .

په هندوستان کي د هندوانو له عنعناتو او د ودونو سره سم د واده لپاره د جیزي برابرول او نور لگښتونه د پیغلي د کورني په غاړه دي.

او دغو پیغلو پلرونه د اقتصادي حالت له امله د خپلو زړونو د ټوټو ځان وژني ته په نا امیدي او حسرت سره گوري او کومه چاره هم نلري.

د گډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

امارت اسلامي افغانستان پیام آور صلح است نه عامل جنگ

وزارت امور خارجه ایالات متحده امریکا روز گذشته طي اعلامیه اي به اصطلاح نگراني عمیق خویشرا در قبال جریانات افغانستان اظهار داشته و در ضمن با بي انصافي عجیب جنگ جاري در بعضي از مناطق کشور را زاده سیاست هاي امارت اسلامي افغانستان دانسته است که بدون شك هر صاحب نظر واقعیت بین را به حیرت افگنده و دشمني و کینه توزي حلقات حاکم بر ایالات متحده امریکا را در رابطه به امارت اسلامي افغانستان هویدا مینماید. اگر به چشم حق بین و منصفانه نظر اندازي گردد واضح است که قبل از تحکیم امارت اسلامي افغانستان ، شهر به شهر بازار به بازار، کوچه به کوچه حتي خانه به خانه کشور ما را آتش جنگ هاي داخلي به خاکستر مبدل مینمود، جان مال و عزت همه ملت در معرض خطر کامل قرار داشت و هیچ روز ساعتي نبود که مرمي هاي بیرحم گروه هاي متخاصم اجسام افراد این کشور را با خون آلوده نسازد ، جنگ داخلي میان تنظیم ها که اکثراً در نتیجه دسایس و پلان هاي کفر جهاني و به اشتراك ملیشه هاي پرورده شده رژیم کمونیستي در کشور در جریان بود همه جهانیان را به خاطر دریافت راه حل و- خاموشي آن متحیر ساخته بود و هیچ طرح و پلاني در نظر نمیخورد تا آتش جنگ در افغانستان را خاموش سازد، قرباني ها و رشادت همین تحریك دین پرور و وطندوست طالبان کرام، علماي- جید و مجاهدین مخلص کشور است که آتش جنگ و برادر کشي را در بیشتر از نود فیصد خاك کشور خاموش ساخته، صلح و- امنیت را به وطن و هموطنان عزیز به ارمغان آورده و هیولاي جنگ و نا امني را از کشور رانده است، حال که آقاي جیمز روبین نطاق وزارت خارجه امریکا اظهار میدارد که امارت اسلامي افغانستان عامل تداوم جنگ در افغانستان است این مطلب خیلي عجیب و خنده آور بوده و چشم پوشي بي نهایت غیر منطقي و غیر واقعي حکومت امریکا راد ر قبال جریانات افغانستان وانمود مي سازد.

امارت اسلامي افغانستان که هدف و غایه تأسیس و تحکیم آن خاتمه دادن به جنگ و بر قرار ساختن صلح و امنیت در افغانستان است و از جانب امریکا منحیث عامل جنگ پنداشته مي- شود پس در چنین یك انصاف خدمتگاران صلح در افغانستان کي- ها خواهند بود ؟!!

به نظر ما عامل مهم تداوم جنگ در افغانستان سیاست هاي غیر واقعبینانه و غیر منصفانه حکومت امریکا و غیره دول و- مجامع حاکم بر سیاست جهاني در قبال مسایل افغانستان است، اگر آنها خواست ملت مجاهد افغان را احترام مینمودند و به قبول واقعیت ها در افغانستان تن مي دادند هیچگاه چند تن باغي توانایي آنرا یافته نمیتوانست تا آتش جنگ را در گوشه یي از افغانستان شعله ور نگهدارد اصلاً سیاست هاي غیر منطقي حلقات مذکور است که با برسمیت شناختن باغیان افغاني به ایشان حوصله و مورال بخشیده تا به بغاوت خود ادامه داده و از استقرار صلح در افغانستان جلوگیري نمایند.

بر علاوه موضوع فوق الذکر آقاي روبین حالت مردم در پنجشیر را نیز قابل اندیشه پنداشته است تو گویي که آقایان مذکور تا چه حد دلسوز بوده و در غم مردم افغانستان غرق اند، ایالات متحده امریکا که همین اکنون بنا بر بهانه هاي پوچ و- دلایل غیر منطقي آماده گي تطبیق تحریمات اقتصادي را بالاي همه مردم افغانستان مي گیرد به کدام دلیل قبول نموده میتوانیم که واقعاً حکومت امریکا و یا آقاي جیمز روبین در رابطه به وضعیت اهالي مستقر در پنجشیر اندیشه واقعي و بي غرض در دل داشته باشند، عجیب است منطق حکام امریکا یي که بر اهالي یك ولسوالي افغانستان دلسوزي روا مي دارند و در عین حال بر همه ملت افغان تطبیق تحریمات اقتصادي را از مسؤولیت هاي خویش مي پندارند ؟!!

اگر حکومت امریکا واقعاً در رابطه به وضعیت مردم در پنجشیر اندیشمند است باید این احساس شانرا اندکي بیشتر تقویه نموده و در رابطه به وضعیت تمام ملت مسلمان افغانستان از خلوص نیت کار گرفته با قبول واقعیت ها در افغانستان پالیسي را اتخاذ نماید که رنج و آلام بي شمار همه ملت مجاهد افغان را کاهش ببخشد نه صرف از اهالي یك ولسوالي و یا یك ولایت را !!

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press